الله تعالى ته تر ټولو خوښ ځايونه جوماتونه او تر ټولو ناخوښ ځايونه بازارونه دي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله فرمايلي: «الله تعالى ته تر ټولو خوښ ځايونه جوماتونه او تر ټولو ناخوښ ځايونه بازارونه دي».

[صحيح دى] [مسلم روايت کړى دى]

نبي خبر ورکړى چې الله تعالى ته تر ټولو خوښ ځايونه جوماتونه دي، ځکه چې د عبادت کورونه دي او بنسټ يې پر تقوا شوى دى، او تر ټولو ناخوښ ځايونه ورته بازارونه دي، ځکه چې غالبا د درغل، سود، دروغو قسمونو، ژمنې ماتولو او د الله تعالى له ذکر څخه د بې پروا کېدلو ځايونه دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4933